هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۹) ماه ربیع الثانی ۱۴٤۷ هـ ق. مطابق ماه سنبله ۱۴۰٤ هـ ش.

**خوشا آنکس که به علم خود عمل کند و از دانش دیگران هم بهره ببرد**

سرمقاله

## مدرسې او ښوونځي د روښانه راتلونکي زیرې ورکوي

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَعَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

هر سهار د یوې ښې راتلوونکې لپاره یوه پیلامه ده ځکه د تېر څخه زده کړه او راتلوونکې ته هیله مندي هغه څه دي چې یو طالب العلم او زده کوونکی یې د خپل روښانه راتلونکي او بریالیتوبونو لپاره باید د خپلې لارې مشال وګرځوي، کله چې د قلم، کتاب او تختې تر منځ د علم او پوهې ترنم او عطر خپرېږي، نو دا یوازې یوه عادي ورځ نه، بلکې دا د یو ملت د برخلیک د بدلون پیل دی. دا د هېواد د روښانه راتلونکي په لور د مزل لومړی قدم او د هیلو پوره کېدو لپاره د ډېوې بلېدل دي.

دا څرګنده خبره ده چې هېڅ ملت د علم او پوهې پرته پرمختګ نشي کولای نو همدې ستړې موخې ته د رسېدو لپاره د پوهنې وزارت هڅه کوي چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د علم او پوهې ډېوې بلې وساتي، تر څو هر ماشوم هغه که د ښار اوسېدونکی وي یا د یوه لرې پراته کلي، د علم له نعمت څخه برخمن شي. هره نوې مدرسه او ښوونځی چې جوړېږي، دا د افغانستان د سبا لپاره د امید یو څرک ده. کله چې یو ماشوم په لومړي ځل کتاب پرانیزي، دا یوازې یوه پاڼه نه ده چې اړول کېږي؛ دا د یوې نوې نړۍ دروازه ده چې د هغوی پر مخ پرانیستل کېږي. دا د علم زده کړې، د روښانه راتلونکي او شخصیت جوړونې نړۍ ده. له همدې امله، د پوهنې وزارت هڅه کوي تر څو نه یوازې ښوونیز مرکزونه زیات کړي، بلکې د زده‌کړې کیفیت هم ورسره لوړ کړي. ځکه کیفیتي زده‌کړه هغه بنسټ دی چې په کې پوه او متخصص وګړي روزل کېږي. همدا وجه ده چې د پوهنې وزارت د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو لوړولو ته ځانګړې پاملرنه کوي. یو ښوونکی که مسلکي وي، نو نه یوازې مضمون انتقالوي، بلکې فکر روزي، شخصیت جوړوي او یوه ټولنه رغوي. د عصري ښوونیزو موادو برابرول، د تدریس نوي میتودونه معرفي کول، او زده‌کوونکي‌محوره چاپېریال رامنځته کول، دا ټول هغه ګامونه دي چې د پوهنې وزارت له خوا په جدي توګه تعقیبېږي، تر څو زده‌کوونکي یوازې اورېدونکي نه، بلکې فعال ګډون‌کوونکي واوسي.

د پوهنې وزارت ژمن دی چې هر ماشوم ته که شتمن وي یا بې‌وزله، د باکیفیته زده‌کړې زمینه برابره کړي. دا ژمنه یوازې شعار نه، بلکې هغه هدف دی چې د مدارسو او ښوونځیو د زیاتوالي ترڅنګ، د کیفیتي ...

۲مخ

# میدان وردګ ولایت ته د پوهنې محترم وزیر سفر



د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا میدان وردګ ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د یاد ولایت د پوهنې ریاست له مسئولینو سره وکتل.

نوموړي په دغه لیدنه کې د پوهنې ریاست د دندو په اړه لنډ راپور واورېد او د ورځنیو فعالیتونو لا ښه والي په اړه یې مسئولینو ته اړینې لارښوونې وکړې.

همدارنګه د پوهنې محترم وزیر د دې سفر په بهیر کې د یاد ریاست له کتابتون، غونډو تالار او یو شمېر نورو ځانګو څخه لیدنه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې د دوی د اداري او تدریسي ادارو اړتیاوې به پوره کړي.

د میدان وردګ ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي محمد عثمان حریت، د پوهنې محترم وزیر ته د ښه راغلاست ترڅنګ، مشرتابه ته ډاډ ورکړ چې د دې ولایت پوهنې ریاست کې به پر خپل ټاکلي وخت اقدامات او هر اړخیز پرمختګ دوام ولري.

## د مدرسینو مسلکي وړتیاوو لوړولو سیمینارونه پیل شول

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت، د هېواد په درېیو زونونو کې د مدرسینو مسلکي وړتیاوو لوړولو په موخه د کامل الحفظ او تجوید په برخو کې سیمینارونه پیل کړل.




مسئولین وایي چې د یادو سیمینارونو په پایله کې به د مدرسینو مسلکي مهارتونه وده ومومي او په ترڅ کې به یې د کامل‌الحفظ او تجوید برخو کې وړتیاوې لا زیاته وده وکړي....

۲مخ

## په کندهار ولایت کې د یوې مدرسې ودانۍ د جوړېدو بنسټ ډېره کېښودل شوه

د کندهار ولایت په میوند ولسوالۍ کې د ۱۸.۷ مېلیونه افغانیو په لګښت د (جامعة الاسلامیه) په نوم د یو باب دیني مدرسې د بنسټ ډېره د یاد ولایت پوهنې مسئولینو، علماءکرامو، مدرسینو او مشرانو په حضور کې کېښودل شوه.

د مدرسې یاده ودانۍ چې ۴۰ درسي ټولګي، یو پخلنځی، د موټرو تم‌ځای او ټولې اړینې اسانتیاوې به ولري، د یو تن سیمه ایېز اوسېدونکي محترم حاجي لالا په مالي مرسته د ۸ جرېبه ځمکې په ساحه کې په دوه پوړونو کې په عصري ډول جوړېږي، چې ورسره به یو محراب جومات هم ولري.

د کندهار ولایت پوهنې ریاست مسئولینو په وینا،...

۲مخ

## جذب معلمین برتر برای تدریس در لیسه نمونوی سید جمال‌الدین افغان



بر اساس فیصله هیئت محترم رهبری وزارت معارف، از ۱۰۰ تن معلمین برتر مکاتب شهر کابل جهت تدریس برای شاگردان نخبه مرکز و ولایات در لیسه عالی نمونوی سیدجمال‌الدین افغان که قرار است در آینده نزدیک افتتاح شود، امتحان ارزیابی علمی و مهارت های معلمی اخذ شد.

امتحان از سوی هیئتی متشکل از معینیت های محترم تعلیم و تربیه، مالی و اداری و ریاست محترم عمومی دفتر مقام وزارت و ریاست معارف شهر کابل در سه مرحله تحریری و مصاحبه اخذ گردیده که از میان این ۱۰۰ تن، در نظر است ۱۶ تن آنان بر اساس نتایج ارزیابی های مطلوب به عنوان معلم در لیسه یاد شده گماشته شوند.

قابل ذکر است که وزارت معارف لیسه عالی نمونوی سیدجمال‌الدین افغان را به هدف ادامه تعلیمات شاگردان نخبه و اول نمره های عمومی مکاتب مرکز و ولایات ایجاد می نماید که همه ساله حدود ۲۰۰ تن شاگردان ممتاز صنوف دهم الی دوازدهم را جذب خواهد کرد.

لیسه مذکور با معیار های بین‌المللی ایجاد می گردد که شامل لابراتوار های عصری و مجهز و محیط مناسب تعلیمی میباشد تا در آینده کادر های ورزیده، متخصص و متعهد را به جامعه تقدیم نماید.

## در این شماره

د خېښۍ، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان — ۲مخ

پند و اندرز منسوب به لقمان حکیم رح به فرزندش — صفحه ۳

خلقت مرغان — صفحه ۳

# د خپښې، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ العٰلمين والصّلوٰة والسّلام علٰى سيِّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين.

**له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال له ځینو غیرضروري مصارفو او ناسمو رواجونو څخه ډډه**

**دریمه ماده:**

په ځینو سیمو کې له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د مبارکۍ او ستړې مشۍ په مناسبت د سیمې د خلکو او راغلو او رابلل شویو مېلمنو ته درنده مېلمستیا او خیرات برابرول او همداراز لوړ بیه تحفې خلکو ته ورکول ضروري رواج ګرځېدلی دی چې له یوه پلوه کوم شرعي حیثیت نه لري او له بله پلوه د زیات لګښت له امله د زیاتو خلکو له حج او عمرې څخه د محرومیت او یا د تأخیر سبب ګرځېدلی دی، له همدې امله باید ټول حجاج او معتمرین له یادو مصارفو او زیان اړوونکو رواجونو څخه ډډه وکړي.

**د دې فرمان د حکمونو پوهاوی ورکول او د هغو عملي کول**

**څلورمه ماده:**

(!) د کورنیو چارو، سرحدونو، قومونو او قبایلو، اطلاعاتو او فرهنګ، د ارشاد، حج او اوقافو، پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونه، رسنۍ او په ولایتونو او ولسوالیو کې د علماوو شوراګانې، فقهي مجالس، د مساجدو خطیبان او امامان، ولسي مخور او نفوذ لرونکي مشران دې په حکمت، مصلحت او تفاهم سره په خپله برخه کې د دې فرمان د حکمونو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړي او د پورتنیو احکامو د عملي کولو کوښښ دې وکړي.

(۲) د چارو د اداري لوی ریاست، د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدلو وزارت او د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست دې، په دوامداره توګه د دې مادې په (۱) فقره کې د یادو وزارتونو، ادارو او اشخاصو له اجراءآتو څخه څارنه وکړي.

**انفاذ**

**پنځمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث**

**مولوي هبةالله اخندزاده**

# فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج‌های نادرست هنگام خویشی عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ العٰلمين والصّلوٰة والسّلام علٰى سيِّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين.

**اجتناب از برخی مصارف غیرضروری و رواج های نادرست هنگام بازگشت از حج و عمره**

**ماده سوم:**

ترتیب مهمانی و خیرات بزرگ هنگام بازگشت از حج و عمره در بعضی مناطق به مناسبت مبارکی و مانده نباشی به مردم محل و مهمانان آمده و دعوت شده و همچنان اعطای تحفه های قیمتی به مردم، رواج ضروری گردیده است که از یک طرف حیثیت شرعی ندارد و از طرف دیگر به علت مصرف گزاف سبب محرومیت و یا تأخیر بسیاری از مردم از حج و عمره گردیده است، از همین رو، باید تمام حجاج و معتمرین از مصارف مذکور و رواج های زیان بار اجتناب نمایند.

**آگاهی دهی از احکام این فرمان و عملی نمودن آنها**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) وزارت های امور داخله، سرحدات، اقوام و قبایل، اطلاعات و فرهنگ، ارشاد، حج و اوقاف، معارف و تحصیلات عالی، رسانه ها و شوری‌های علماء، مجالس فقهی، خطیبان و امامان مساجد، متنفذین قومی و بزرگان بانفوذ در ولایات و ولسوالی‌ها با حکمت، مصلحت و تفاهم به سهم خویش در مورد احکام این فرمان به مردم آگاهی بدهند و در عملی نمودن احکام فوق کوشش نمایند.

(۲) ریاست عمومی ادارهٔ امور، وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات و لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام، طور دوامدار از اجراآت وزارت‌ها، ادارات و اشخاص مذکور در فقرهٔ (۱) این ماده نظارت نمایند.

**انفاذ**

**ماده پنجم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث**

**مولوي هبةالله اخندزاده**

# بهره برداری تعمیر جدید یک باب مکتب در فاریاب

تعمیر جدید ابتدائیه رهی ابدال در ولسوالی خیبر ولایت فاریاب که کار ساخت آن چندی پیش به هزینه ۱۵ میلیون و ۸۸۰ هزار افغانی به کمک مالی یک نهاد همکار با معارف آغاز گردیده بود، طی محفلی با حضور مسئولین معارف و مقامات آن ولایت افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مکتب یاد شده که در مساحت چهار جریب زمین وقف شده از سوی اهالی معارف دوست آن ولسوالی به شکل پخته و اساسی ساخته شده است، دارای ۶ صنف درسی بوده و شامل سیستم آبرسانی و برق خورشیدی، دیوار احاطه و سایر ملحقات ضروری دیگر نیز می باشد.

محترم الحاج مولوی حمیدالله ارشاد، رئیس معارف ولایت فاریاب، در رابطه به ساخت پروژه های ساختمانی، توسعه و تقویت زیرساخت های معارف و فراهم سازی محیط مصئون آموزشی برای فرزندان کشور صحبت نموده و ساخت مکاتب را در بهبود کیفیت تعلیم و تربیه با ارزش خواند.

باشنده گان محل نیز از ساخت مکتب در محله شان، ابراز خرسندی نموده و از حمایت های شان در راستای تقویت نظام تعلیمی کشور، اطمینان دادند.

# پکتیا ولایت کې د یو تن ملي سوداګر لخوا د یوې دیني مدرسې ودانۍ جوړه شوه

د پکتیا ولایت ځاځي اریوب ولسوالۍ نعمانیه دیني مدرسې لپاره یوه بشپړه مجهزه ودانۍ د ۱۹۶ زره افغانیو په لګښت د یاد ولایت د یو تن ملي سوداګر میرویس خان په مالي مرسته جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

دغه ودانۍ چې په فرشونو او نورو اړینو وسایلو سمباله ده، په جوړېدلو سره یې د طلابو لپاره د زده‌کړې سالم چاپېریال برابر شو.

د ځاځي اریوب ولسوالۍ پوهنې آمریت مسئولینو د میرویس خان له مرستې ستاینه وکړه او دا یې د نوموړي لپاره صدقه جاریه او نېک عمل وباله. د پوهنې وزارت مشرتابه د پوهنیز نظام څخه د هېوادوالو له مادي او معنوي ملاتړ څخه مننه کوي.

**روښانه سبا د مدارسو او ښوونځیو ...**

اصلاحاتو له لارې عملي کېږي. ځکه زموږ باور دا دی چې د یوې ټولنې دوامداره او مثبت بدلون د ځواکمنو تعلیمي بنسټونو په لرولو سره شونې ده. نننی نسل د سبا ورځې رهبران دي. که نن یو طالب العلم او زده کوونکی د مدرسې او ښوونځي دروازې ته ننوځي، سبا ښایي د همدې ټولنې عالم، استاذ، ډاکټر، قاضي، رهبر یا یو مخترع شي. خو دا هغه وخت شونې ده چې موږ ټول په ګډه د تعلیم دا مشعل لا نور هم روښانه وساتو. د پوهنې وده یوازې د پوهنې وزارت مسؤلیت نه دی، بلکې دا د ټول ملت، پلار او مور، ښوونکي او هر وګړي مسؤلیت دی.

راځئ چې د خپلو ماشومانو لاس ونیسو، هغوی د ښوونې او روزنې پر لاره برابر کړو، هغوی د دیني او عصري علومو په ګاڼه سمبال کړو، او هغوی ته داسې راتلونکې ور په برخه کړو چې پکې عزت وي، آزادي او پرمختګ وي، د علم مشعل پرې نه ږدو چې تت شي؛ ځکه دا مشعل مو د سبا روښنایي ده.

**د اسلامي زده‌کړو معینیت له ...**

دغه علمي او مسلکي سیمینارونه په دریو زونونو کندهار او هرات زون کې د دارالعلومونو د رئیس محترم مولوي عبدالقدوس قدوسي، په کندز او بلخ زون کې د مسلکي انکشاف د آمر محترم عبدالغني رحیمي او په پکتیا او ننګرهار زون کې د استعدادونو ارزونې د رئیس محترم مفتی عبدالولي سداد تر مشرۍ لاندې پیل شول.

د یادونې وړ ده په دغو سیمینارونو کې ټولټال ۸۴۰ تنه مدرسین ګډون لري، چې د وړې تر ۲۷مې نېټې پورې به د کامل الحفظ او تجوید په برخو کې مهم معلومات او رزونه ترلاسه کړي.

د اسلامي زده کړو معینیت مسئولین وایې چې دغه ډول پروګرامونه به د مدرسینو مسلکي مهارتونه پیاوړي او د قرآني علومو د ترویج په برخه کې به مهم رول ولوبوي.


**په کندهار ولایت کې د یوې ...**

د یادې مدرسې جوړېدو چارې به تر راتلوونکو ۵ میاشتو پورې بشپړې شي چې په جوړېدو سره به یې د سیمې سلګونو تنه طالب العلمانو ته د زده کړې زمینه برابره شي. د پوهنې وزارت مشرتابه د پوهنیز نظام څخه د هېوادوالو له مادي او معنوي ملاتړ څخه مننه کوي.

# خلقت مرغان

داخل تخم مرغ سه مایع وجود دارد: سفیده، زرده و نطفه. نطفه باعث پیدایش چوچه می شود و زرده خوراک اوست تا بتواند بیست و یک روز از آن تغذیه کند. مقدار این مایع خوراکی به گونه ای تنظیم شده است که در طی این مدت، چوچه دقیقه ای گرسنه نمی ماند و ذره ای از زرده تخم مرغ نیز باقی نمی ماند. در قسمت انتهای تخم، یک قسمت خالی به چشم می خورد که در آن هوایی برای تنفس چوچه ذخیره شده است. آن مقدار هوا در داخل تخم برای این است تا چوچه برای ادامه حیات از آن استفاده کند.

نکته دیگر اینکه، چوچه های مرغ خانگی، هنگام خارج شدن از تخم، با پر و بال روییده بیرون می آیند، ولی چوچه های دیگر پرندگان مثل کبوتر، بلبل و گنجشک و به طور کلی مرغانی که در هوا پرواز می کنند، همچون قطعه گوشت سرخ بدون پر و بال از تخم خارج می شوند و پدر و مادر باید مدتی غذای مخصوص به آنها بدهند و از آنها مراقبت کنند، تا پر و بالشان بروید و قدرت پرواز بیابند. این خود، از نظم و حسابی حکایت می کند و آن اینکه مرغان خانگی نیاز به پرواز ندارند، ولی مرغان دیگر باید نیروی پرواز را به تدریج به دست آورند. بر این اساس، خداوند حکیم هم تهیه غذای آنها را به عهده پدر و مادر نهاده و هم ابزار پرواز را از ابتدا به آنها نداده است که خود را به رنج و زحمت بیندازند. پس آنها باید مدتی صبر کنند تا ابزار و توان کافی برای پرواز را به دست آورند.




**پیام متن:**
قدرت خداوند حکیم، در تخم حیوانات به خوبی دیده می شود؛ زیرا در تخم مرغ غذا و هوا برای مدت بیست و یک روز پیش بینی شده است.

# لس غوره ویناوې

۱- ستاسې هر هدف او هره نېکه هیله په حقیقت د بدلېدو توان لري، وېره او ځنډ د بریالیتوب دوه ستر دښمنان دي.
۲- هر څیز ته دېر د ستونزو په سترګو مه ګوره. کوښښ وکړه چې تل نېك او مثبت فکر ولرې.
۳- خپلې نیمګړتیاوې ومنه او د اصلاح لپاره یې کوښښ وکړه.
۴- په خپل قوت پوه شه، خاکسار او متواضع اوسه خو دومره هم نه چې خپل قوت کمزوري او یا له لاسه ورکړې.
۵- اړیکې پای او حد نلري خو بدلون مومي.
۶- ستاسې د خوبونو د ریښتیا کېدو په لار کې هېڅ خنډ نشته خو که په ځان باور ولری.
۷- په بده ورځ درسره هر څوک مرسته نشي کولای او په ښه ورځ درته هر څوک هومره خوښ نه وي. د ښو او رښتینو ملګرو پیدا کول زده کړه.
۸- تېر تېر شو په تېر پسې افسوس نه دی پکار او راځئ دا د کاشکې، افسوس، ای هی، چې داسې وای، چې داسې شوي وای....کلمې هېرې کړو.
۹- هره ورځ ګټور شیان زده کړه، هغه چې د مهارتونو، مهربانۍ، لوړ هدف، او پوهې په تر لاسه کولو کې ستا مرسته وکړي.
۱۰- کله دې چې ورور غائب و په هغو صفاتو یې یادوه چې ته خوښوې چې تا پرې یاد کړي.

# حکایت زیبای بهلول و تجار

روزی تجار بغدادی از بهلول پرسید من چه بخرم تا مفاد زیاد بدست بیاورم؟ بهلول جواب داد آهن و پنبه.

آن تجار رفت و مقداری آهن و پنبه خرید و انبار نمود اتفاقا" پس از چند ماهی فروخت و مفاد فراوان برد.

بار دیگر روزی با بهلول روبرو شد. این بار گفت بهلول دیوانه من چه بخرم تا نفع زیاد ببرم؟ بهلول این بار گفت پیاز و تربوز.

تجار این بار رفت و با تمام سرمایه خود پیاز و تربوز خرید و انبار نمود، پس از مدت کمی تمام پیاز و تربوز های او پوسید و از بین رفت و ضرر فراوان نمود.

فوری به سراغ بهلول رفت و به او گفت در اول که از تو مشورت نمودم، گفتی آهن و پنبه بخر، نفعی بردم. ولی بار دوم این چه پیشنهادی بود که به من کردی؟ تمام سرمایه من از بین رفت.

بهلول در جواب آن مرد گفت: روز اول که مرا صدا زدی گفتی آقای شیخ بهلول و چون مرا شخص عاقلی خطاب نمودی من هم از روی عقل به تو دستور دادم.

ولی دفعه دوم مرا بهلول دیوانه صدا زدی، من هم از روی دیوانگی به تو دستور دادم. مرد از گفته دوم خود خجل شد و مطلب را درک نمود.

# علم

چې په علم څوک آباد وي — غم یې نشته تل به ښاد وي
خدای په علم پېژانده شي — په دانش ابلیس رانده شي
علم تا په طاعت پوه کا — علم تا په حرمت پوه کا
علم تا په تولو بر کا — د دنیا دانایي در کا
حق ناحق زده کړئ په علم — در ښکاره شي عدل، ظلم
په دنیا چې تور او سپین دي — واړه علم وته مبین دي
علم دین دی هم دنیا دی — د بادشاه هم د ګدا دی
چې فقیر وي علم زده کا — خدای یې لویه مرتبه کا
په هر نېک، په بد آشنا شي — د دنیا، د دین بادشاه شي
پوهه واړه عنایت دی — غوره لار د عبادت دی

( د خوشال خان کلیات ۷۷۶-۷۷۹ مخونه )

# وصیت نامه مرد خسیس

روزی مرد خسیسی که تمام عمرش را صرف جمع آوری مال کرده بود پول و دارایی زیادی جمع کرده بود قبل از مرگ به همسرش گفت: من می‌خواهم تمامی اموالم را به آن دنیا ببرم.

او از همسرش تعهد گرفت که تمامی پول‌هایش را به همراهش در تابوت دفن کند. خانم اش نیز قول داد که چنین کند. چند روز بعد مرد خسیس دار فانی را وداع کرد.

وقتی اقارب آنان کفن و دفن مراسم تکفین و تجهیز را بجا آوردند و می‌خواستند تابوت مرد را ببندند و او را در قبر بگذارند، ناگهان همسرش گفت: صبر کنید. من باید به وصیت شوهر مرحومم عمل کنم. بگذارید من این صندوق را هم در تابوتش بگذارم. اقارب مرحوم که از کار همسرش متعجب شده بودند به او گفتند آیا واقعاً حماقت کردی و به وصیت مرحوم عمل کردی؟

زن گفت: من نمی توانستم بر خلاف قولم عمل کنم. همسرم از من خواسته بود که تمامی دارایی‌اش را در تابوتش بگذارم و من نیز چنین کردم.

البته من تمامی دارایی‌هایش را جمع کردم و وجه آن را در حساب بانکی خودم ذخیره کردم. در مقابل چکی به همان مبلغ در وجه شوهرم نوشتم و آن را در تابوتش گذاشتم، تا اگر توانست آن را وصول کرده و تمامی مبلغ آن را خرج کند.

# شعر درباره علم و دانش

نخست از کسب دانش بهره ور شو — ز جهل آباد نادانان بدر شو
بود معلوم هر آزاد و بنده — که نادان مرده و داناست زنده
کسی کو دعوی فرزانگی کرد — کجا با مردگان همخانگی کرد
ولیکن پا به دانش نه درین راه — که علم آمد فراوان عمر کوتاه
نیابد هیچ کس عمر دوباره — به علمی رو کز آنت نیست چاره
چو کسب علم کردی در عمل کوش — که علم بی عمل زهریست بی نوش
چه حاصل زانکه دانی کیمیا را — مس خود را نکرده زر سارا
بکن زین کارخانه در کتب روی — خیال خویش را ده با کتب خوی
ز دانایان بود این نکته مشهور — که دانش در کتب داناست در گور
انیس کنج تنهایی کتاب است — فروغ صبح دانایی کتاب است

بود بمزد و منت اوستادی
ز دانش بخشدت هر دم گشادی

**جامی**

# پند و اندرز منسوب به لقمان حکیم رح به فرزندش

- در همهٔ امور میانه رو باش!
- گذشت و جوانمردی را پیشه کن!
- هر قدر که می توانی با مهمان مهربان باش!
- در مجالس و معابر چشم و زبان را از گناه نگه دار!
- پاکی و نظافت را هیچگاه فراموش مکن!
- هیچگاه دوستان خود را ترک مکن!
- فرزندانت را دانش و دینداری بیاموز!
- اسپ سواری و تیراندازی را فراگیر!
- با هر کس به اندازهٔ درک او سخن بگو!
- به هنگام سخن گُفتن متین و آرام باش!
- به کم گفتن و کم خوردن و کم خوابیدن خود را عادت بده!
- آنچه را که برای خود نمی پسندی برای دیگران نیز مپسند!
- هر کاری را با آگاهی و استادی انجام بده!
- نا آموخته استادی مکن!
- با ضعیفان و کودکان راز خود را در میان نگذار!
- چشم به راه کمک و یاری دیگران مباش!
- از بدان انتظار مردانگی و نیکی نداشته باش!
- هیچ کاری را پیش از اندیشه و تدبر انجام مده!
- کار امروز را به فردا مینداز!
- با بزرگتر از خود مزاح مکن!
- با بزرگان سخن طولانی مگو!
- کاری مکن که جاهلان با تو جرأت گستاخی پیدا کنند!
- محتاجان را از مال خود محروم مگردان!
- دعوا و دشمنی گذشته را دوباره زنده مکن!
- کار خوب دیگران را کار خود نشان مده!
- مال و ثروت خود را به دوست و دشمن نشان مده!
- با خویشاوندان قطع خویشاوندی مکن!
- هیچگاه پاکان و پرهیزکاران را غیبت مکن!


Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
د پوهنې کاروان مینه والو!
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 309 /2025

# سنگ تهداب تعمیر جدید ریاست نتایج و شهادت نامه ها گذاشته شد



سنگ تهداب ساختمان جدید ریاست نتایج و شهادت نامه های وزارت معارف طی محفلی با شکوهی از سوی محترم الحاج مولوی صبغت الله وصیل معین مالی و اداری وزارت معارف، در حالی که شماری از علمای کرام ، روئسای مرکزی و مهمانان عالی رتبه حضور داشتند گذاشته شد.

محترم مولوی عبدالقدیم محمد آخندزاده رئیس نتایج و شهادت نامه های وزارت معارف گفت: در نظر است تعمیر جدید ریاست نتایج و شهادتنامه های وزارت معارف در سه طبقه با داشتن تمام ضروریات و تاسیسات لازمی به هزینه ۲۳ میلیون افغانی از بودجه وزارت معارف ساخته شود.

در این محفل محترم معین مالی و اداری این وزارت نیز گفت که تعمیر جدید محیط معیاری را برای کارمندان و مراجعین فراهم می کند. او از منسوبان معارف خواست تا وظایف خویش را با اخلاصمندی انجام داده و به مشکلات مراجعین به وخت رسیده گی نمایند.

همچنان شماری مهمانان از سایر ادارات نیز در سخنان شان، کارکرد های وزارت معارف را ستوده و در تطبیق پلان ها و برنامه های این وزارت اعلام آماده گی نمودند.

## جمع آوری بیش از ۷ میلیون افغانی عواید مالی در ریاست معارف بدخشان

مسئولان در ریاست معارف ولایت بدخشان می گویند که در جریان سال ۱۴۰۳ خورشیدی جمعا مبلغ ۷ میلیون و ۱۰۰ هزار افغانی عواید از بابت توزیع شهادت‌نامه‌ها جمع‌آوری و به حساب این وزارت در بانک واریز شده است.

مسئولان ریاست معارف آن ولایت این دستاورد را نشانه‌ای از شفافیت، مسئولیت‌پذیری و فعالیت مؤثر کارمندان دانسته و می‌گویند که این ریاست در کنار شفافیت مالی و مدیریت مؤثر، متعهد به ارتقای کیفیت خدمات آموزشی نیز می‌باشد.

## د دایکنډي ولایت د پوهنې نوي رئیس معرفي شو

د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه عالي مقام د حکم پر بنسټ محترم الحاج مولوي شیر محمد صدیقي د دایکنډي ولایت د پوهنې نوي رئیس په توګه معرفي او د پوهنې پخوانی رئیس محترم الحاج مولوي رحمت الله قندیلي د همدې ولایت د حج او اوقافو د رئیس په توګه وټاکل شو.

په یادو مراسمو کې، د دایکنډي ولایت مرستیال محترم الحاج مولوي احسان الله رحمتیار، د یاد ولایت د پوهنې، حج او اوقافو د پخوانیو رئیسانو له خدمتونو ستاینه وکړه، د پوهنې، حج او اوقافو نویو رئیسانو ته یې د هغوی د تازه دندو مبارکي وویله او د ورسپارل شویو دندو په ترسره کولو کې یې د خدای تعالی له دربار څخه هغوی ته د لا زیاتو بریالیتوبونو دعا وکړه.

د دایکنډي ولایت د پوهنې پخوانې رئیس محترم الحاج مولوي رحمت الله قندیلي په دې مراسمو کې نوي رئیس ته مبارکي وویله او د پوهنې په برخه کې یې له خپلو ټولو همکارانو څخه غوښتنه وکړه چې د نوي رئیس بشپړ ملاتړ وکړي. نوموړي زیاته کړه: لکه څنګه چې مو له ما سره په صادقانه ډول همکاري کړې تر دې وروسته هم باید په پوره صداقت او لېوالتیا سره د نوي رئیس سره همکاري وکړئ.

د یاد ولایت د پوهنې نوي رئیس هم په خپله وینا کې ډاډ ورکړ چې د پوهنې وزارت د رهبرۍ د لارښوونو او احکامو سره سم به د خپلې پوهې او تجربې په کارولو سره د وزارت د پلانونو او پروګرامونو د پلي کولو لپاره هلې ځلې وکړي.

## د پوهنې وزارت د تحقیقاتو نوی رئیس معرفي شو

د پوهنې وزارت د تحقیقاتو نوی رئیس محترم الحاج مولوي عبدالحق حقاني د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس محترم شیخ محمد طاووس طارق له خوا د یاد وزارت د مرکزي څانګو یو شمېر رئیسانو او کارکوونکو په حضور کې معرفي او په کار یې پیل وکړ.

د پوهنې وزارت د مقام د دفتر محترم لوی رئیس په ادارو کې تقرر او بدلون یو اصل وګاڼه او ویې ویل چې دا ډول اقدامات په اداري څانګو کې د کارونو لا ښه والي په موخه پلي کېږي.

نوموړي زیاته کړه: په اسلامي نظام کې دندې یو مسئولیت دی او اسلامي نظام د الله تعالی له لوري یو نعمت دی چې زموږ مجاهد پرووره ملت ته ورکړل شوی دی؛ نو اړینه ده چې موږ په دې برخه



کې خپلې دندې په صادقانه او بشپړ اخلاص سره اداء کړو.

د تحقیقاتو رئیس هم د موضوع په اړه خبرې وکړې او د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه عالي مقام او د پوهنې وزارت د رهبرۍ له باور څخه یې د مننې ترڅنګ ډاډ ورکړ چې ورسپارل شوې دنده به په پوره صداقت او د پوهنې وزارت د محترم مشرتابه د لارښوونو او پرېکړو په رڼا کې پلې کړي.

غونډه د یاد وزارت د ښوونکو د مسلکي پراختیا د رئیس محترم مولوي محمد ابراهیم عمري له خوا دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## آغاز روند اخذ امتحان علوم دینی از کارمندان وزارت معارف

به اساس هدایت وزارت محترم امر بالمعروف و نهی عن المنکر و حسب تقسیم اوقات ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف روند اخذ امتحان علوم دینی از کارمندان ریاست خدمات این وزارت در بخش های «جهاد و معاملات» آغاز شد و در نظر است تا به ترتیب در روز های آینده از کارمندان سایر ریاست های این وزارت نیز در بخش های متذکره امتحان اخذ شود.

در روز نخست از حدود (۶۰۷) تن کارمندان ریاست خدمات در مسجد وزارت معارف امتحان گرفته شد.

مسئولان ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف میگویند هدف این امتحان، اطاعت از اوامر، تشویق کارمندان به امور دینی، تطبیق قوانین الهی و ارزیابی پرسونل در بخش‌های علوم دینی می باشد، تا معلومات کارمندان معارف در بُعد فکری و عقیدتی بیشتر ارتقا یافته و آن‌ها به اهداف اساسی زندگی شان متوجه شوند.

مسئولان این ریاست که از روند امتحان و تأمین شفافیت در امتحان نظارت می کردند، وعده سپردند که بعد از اتمام روند امتحان عموم کارمندان، نتایج آن به زودی اعلان و به افراد ممتاز تقدیرنامه‌ها و جوایز اهدا می‌گردد.

## په بادغیس ولایت کې د ۲ بابه ښوونځیو د بیارغونې چارې پیل شوې

د بادغیس ولایت بالامرغاب ولسوالۍ مرکزي لېسې او د غورماچ ولسوالۍ د آبګرمک لېسې بیارغونې چارې پیل شوې.

د یادو پروژو لګښت چې ټولټال ۲۸ مېلیونه ۶۲ زره ۸۰ افغانیو ته رسیږي د پوهنې وزارت له بودجې څخه تمویلېږي، ټاکل شوې چې د یادو ښوونځیو د بیارغونې چارې تر راتلونکو دریو میاشتو پورې بشپړې او بیاځلې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د بادغیس ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا د یادو پروژو په بشپړېدو سره به د دې ښوونځیو شاوخوا ۲ زره تنو زده‌کوونکو ته خوندي او معیاري تعلیمي چاپېریال چمتو شي.

په همدې حال کې د یادو ښوونځیو ښوونکو او زده کوونکو د خپلو ښوونځیو د بیارغونې څخه خوښي څرګنده کړه او د ښې زده کړې لپاره یې د مناسب او معیاري چاپېریال شتون اغېزمن وباله.

**که غواړی وطن مو آباد او له نورو هېوادنو سره سیال شي نو خپل ماشومان مو له بې سوادۍ څخه وژغورئ**